مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۶/۱۷

لنډی، د ثبتولو ستونزه

دوه اویایمه برخه

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

اتلسمه برخه

کورونا شته، خو نه یې ویني
خبر به نه یې عالمونه غرقوینه

کورونا وسوځې په اور کې
د ګل په شان لالي مې ګور ته رانه ځینه

پر خلکو نورې ټکې لږ وې
چې کورونا لښکرې هم ورته راځینه

سر مې تر ټولو زلمو هسک و
کورونا راغله زوړند سر پر لارې ځمه

په افغانستان کې د کورونا وبا د دریمې څپې له محسوسېدو سره سم، رسمي مقاماتو د خطر زنګونه وغږول او عامې روغتیا وزارت د خپلو اجرأتو په لړ کې، په ځینو ولایتونو کې تعلیمي مؤسسې د څه مودې له پاره وځنډولې، خو له نورو اړوندو وزارتونو سره یې د نه همغږۍ حالت زدکونکي، محصلین او کورنۍ یو څه سرګردانه کړې.

د کورونا دریمه څپه تر نورو دا وژونکې او خطرناکه ګڼل شوې ده، د همدې خطر لیدل او محسوسېدل سمدلاسه د لنډیو په قالب کې په رنګارنګ بڼو انځور شوي دي.

په افغانستان کې د کورونا وبا د دریمې څپې له راتګ نه وروسته ما د لنډیو مقالو د دې برخې تر برابرولو پورې، دغه «کورونایي» لنډۍ راټولې کړې دي:

د کورونا په لوی دریاب کې
که احتیاط نه وي، ډېر ځواکمن هم ډوبوینه

د رغېدو تمه یې لږ ده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کورونا توره څپه ده وبه مرينه

پر خلکو نورې تکې لږ وې
چې کورونا لښکرې هم ورته راځينه

موږ له جګړې نه ګيلمن وو
کورونا راغله د هرچا لارې څارينه

سر مې تر ټولو زلمو هسک و
کورونا راغله زوړند سر پر لارې ځمه

څوک مې د حال پوښتنه نه کړې
د کورونا بچيان لار څاري مړ به شمه

تن مې ببلتون پخوا ځپلی
اوس فريادي د کورونا له لاسه يمه

پخوا به ستا غم کې وم ياره
اوس مې ته هېر يې کورونا نيولې يمه

کورونا شته، خو نه يې ويني
خبر به نه يې عالمونه غرقوينه

کورونا خوږ بچی دې ومره
چې درنه خلاص شې تا ځپلي زلمي نجونه

کورونا ځان باندې اخته شې
چې درنه هېر شې تا نيولي عالمونه

کورونا وسوځې په اور کې
د ګل په شان لالي مې ګور ته رانه ځينه

کورونا ښه بده بلا ده
هوښياران هغه چې له بلا نه ځان ساتينه

له کورونا نه نه ډارېږم
ډار مې له دې دی چې ديدن دې قضا شينه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ